# د محرميت محدوديتونه

## کله چې مور معلومات محرم نه شو ساتلی: د ماشومانو ساتنه



دا رساله تشریح کوي چې ولې د HSE کارکوونکي ښايي د ماشومانو د خونديتوب او ساتنې د‌اړه ترلاسه کولو لپاره حساسو یا شخصي معلومات شریکولو ته اړتیا ولري.

موږ ستاسو د محرمیت حق ته درناوی کوو او ستاسو د معلوماتو خوندي ساتلو ته ژمن یو. خو، د دغه محرمیت لپاره محدودیتونه شته. په ځینو حالاتو کې موږ اړ یو چې معلومات شریک کړو.

که موږ د ماشوم د خونديتوب یا هوساینې په اړه اندیښمن یو، موږ ښايي د Tusla (د ماشوم او کورنۍ اداره) یا An Garda Síochána سره معلومات شریکولو ته اړتیا ولرو. دا د ماشومانو د ساتنې لپاره د قانون له مخې اړین دی.




## د ماشومانو خوندي ساتنه –
## زموږ قانوني مکلفیتونه

د ماشومانو او ځوانانو خوندیتوب، هوساینه او پرمختګ د HSE لپاره لومړیتوب لري. زموږ کار د قانون او پالیسی لخوا رهبري کیږي، لکه:

- د ماشومانو لومړی قانون ۲۰۱۵ او
- د ماشومانو د ساتنې او هوساینې لپاره د ماشومانو لومړی ملي لارښود ۲۰۱۷





Number 36 of 2015

Children First Act 2015

دا زموږ پالیسي ده چې د HSE ټول کارکوونکي باید Tusla ته خبر ورکړي کله چې دوی د اندیښنې لپاره معقول دلیل ولري چې یو ماشوم ممکن د ناوړه ګټه اخیستنې یا غفلت (زیان) یا د خطر سره مخ وي.

دا زموږ پالیسي ده چې د HSE ټول کارکوونکي باید Tusla ته خبر ورکړي کله چې دوی د اندیښنې لپاره معقول دلیل ولري چې یو ماشوم ممکن د ناوړه ګټه اخیستنې یا غفلت (زیان) یا د خطر سره مخ وي.

**په آیرلینډ کې، له قانون سره سم تر ۱۸ کلنۍ کم عمر لرونکي هر چا ته ماشوم ویل کېږي.**

## څنګه یوه اندېښنه وپیژنو؟

د ماشوم د هوساینې یا ساتنې په اړه اندېښنه ښایي په مختلفو لارو زموږ پام را واړوي، لکه:

- یو ماشوم موږ ته وایي یا نښې ښیي چې دوی ته زیان رسیدلی دی.
- یو څه وینو یا اورو چې ته دا باور راکوي چې یو ماشوم ښایي زیانمن شوی وي، زیانمن کیږي یا د زیان رسېدو له خطر سره مخ وي.
- یو څوک دا اندیښنه شریکوي چې یو ماشوم زیانمن شوی، زیانمن کیږي یا د زیان رسېدو له خطر سره مخ دی.
- یو بالغ کس وایي چې دوی ته په ماشومتوب کې زیان رسیدلی، او موږ باور لرو چې بل ماشوم ښایي اوس یا په راتلونکي کې د ورته کس لخوا له خطر سره مخ وي.

## چیرته د اندیښنې راپور ورکوو؟

Tusla په آیرلینډ کې هغه اداره ده چې د ماشومانو د خوندیتوب او ښې پاملرنې ډاډ ترلاسه کولو مسوولیت لري. دوی کورنیو ته هم ملاتړ چمتو کوي.

که د ماشوم د هوساینې یا ساتنې په اړه اندیښنې لرو، باید Tusla ته یې راپور ورکړو. کولی شئ د دوی د رول او خدمتونو په اړه نور معلومات دلته زده کړئ:

[www .tusla.ie/children-first/](www.tusla.ie/children-first/)

په ځینو مواردو کې، موږ ښایي د اندیښنو راپور An Garda Síochána ته هم ورکړو، یا Tusla ښایي د اړتیا په صورت کې له دوی سره معلومات شریک کړي.

## موږ باید د اندېښنو راپور ورکړو، حتی که:

- موږ ماشوم یا هغه کس نه پېژنو چې ښایي د زیان لامل شوی وي.
- موږ ته وواياست چې اندیښنه له مخکې Tusla یا An Garda Síochana ته راپور شوې ده.
- وروسته تصمیم نیسئ چې غواړئ هغه څه بیرته واخلئ چې تاسو ویلي او اندیښنه یې راپارولې وه.

## ستاسو رضایت او د ماشوم خوندیتوب

موږ به معمولا خپلې اندیښنې له تاسو سره شریکوو او تشریح کوو چې ولې موږ راپور جوړوو.

خو، د راپور جوړولو لپاره ستاسو رضایت اړین نه دی. کله چې د ماشومانو د خوندیتوب خبره راځي، د معلوماتو د ساتنې قانون او د معلوماتو د ساتنې عمومي مقرره (GDPR) موږ د ماشومانو د خوندي ساتلو لپاره د اړتیا په وخت کې له معلوماتو شریکولو څخه نه منع کوي.

## بیا څه کیږي؟

تر راپور ورکولو وروسته، Tusla بنایي د نورو معلوماتو راټولولو لپاره له تاسو سره اړیکه ونیسي. د دوی هدف دا دی چې وضعیت په بشپړه توګه درک کړي ترڅو دوی وکولی شي د هر هغه ماشوم ساتنه او ملاتړ وکړي چې ممکن په خطر کې وي.

ستاسو همکاري مهمه ده. پرته له دې، Tusla بنایي د ماشوم له زیان څخه خوندي ساتل ستونزمن ومومي.

## د ملاتړ خدمتونو

مور پوهیږو چې دا پروسه ښایي ستاسو لپاره ستونزمنه وي، او تاسو ښايي ملاتړ ته هم اړتیا ولرئ.

د مرستې لپاره خدمتونه شتون لري. ډیری دا خدمتونه وړیا دي او د راجع کولو اړتیا نه لري. د نورو معلوماتو لپاره، د HSE ویبپاڼه وګورئ:

د رواني روغتیا ملاتړونه
او خدمتونه - HSE.ie

## که اندیښنه لرئ نو څه وکړئ؟

که د ماشوم د خوندیتوب یا هوساینې په اړه اندیښمن یاست، نو غلی مه پاتې کیږئ. خپله اندیښنه Tusla او/یا An Garda Síochana ته راپور کړئ.

## نور معلومات دلته زده کړئ

د HSE د ماشومانو د ساتنې او هوساینې پالیسی په اړه د نورو معلوماتو لپاره، لیدنه وکړئ:

www .hse.ie/childrenfirst

QR کوډ سکن کړئ یا لیدنه وکړئ: hSE ://www. hse.ie/eng/services/list/2/primarycare/childrenfirst/hse-child-protection-and-/welfare-policy

دا رساله په نورو ژبو ژباړل شوې ده. لاندې QR کوډ سکين کړئ یا https://www.hse.ie/eng/services/list/2/primarycare/childrenfirst/resources/limits-to-confidentiality.html ته مراجعه وکړئ.

HCF01804